شمنی
SHTAMANAI
اوونیزه




**امارت اسلامی افغانستان**

**درنو هیوادوالو!**

په خپله خوښه د حقیقي مالیاتو ورکړه د هیواد د ځان بسیاینې پر لور گام دئ او د مالیاتو عواید ستاسي د ښوونکو، ډاکټرانو او امنیتي ځواکونو پر معاشاتو لگول کیږي؛ نو د مالیاتو په ورکړې سره خپله ملي دنده ترسره کړئ


چهار شنبه |د ذوالحجه ۲۴-۱٤٤٤ /د چنگاښ ۲۱-۱٤۰۲ /د جولای ۱۲-۲۰۲۳ /دوهم کال / ٥٦ گنه/ ٤ مخيز ۱


# د قشقرۍ په سیمه کې د نفتو له نوي څاه څخه د استخراج چاري پیل سوې



د مالیې وزارت اړوند د افغانستان د نفت او گازو دولتي شرکت او یوه چینایي قراردادي شرکت (افچین) له لوري په گډه د قشقرۍ په نفتي حوزه کې د نوي استخراجي څاه پرانیستنه وسوه. د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ شهاب الدین دلاور او د مالیې وزارت اړوند د نفت او گازو دولتي شرکت لوی رئیس محمد نصیر رحیمي (انجنیر حسن) او مسؤلینو د سرپل ولایت په قشقرۍ سیمه کې د (۲۱م نمبر) نوي استخراجي څاه پرانیستنه وکړه او د استخراج چاري ئې پیل سوې. له دې څاه څخه اوس مهال په (۲۴) ساعتونو کې د (۷۰) ټنو په شاوخوا کې خام تېل استخراجیږي او په نږدې راتلونکي کې به د یادي څاه څخه د استخراج کچه (۱۰۰) ټنو ته لوړه سي.

# د مالیې وزارت مالي معین د اطلاعاتو او کلتور وزارت له نشراتي معین سره وکتل

د مالیې وزارت مالي معین محترم (حاجي عبدالقدیر احمد) د اطلاعاتو او کلتور وزارت له نشراتي معین، ښاغلي (مهاجر فراهي) سره وکتل. په دې لیدنه کې، چې د مالیې وزارت د بودیجې او خزاینو لویو ریاستونو رئیسانو، د باختر دولتي آژانس رئیس، پر رسنیو د څار رئیس او د دولتي ورځپاڼو رئیس هم گډون درلود، په پیل کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت نشراتي معین د یاد وزارت ملي، فرهنگي او اطلاعاتي ارزښت روښانه کړ او تر څنگ ئې په مالي برخه کې د یو لړ شته ستونزو یادونه وکړه. ښاغلی فراهي د مالیې وزارت څخه د لگښتونو په اجراء کې د اړیني همکارۍ غوښتونکی سو او زیاته ئې کړه، چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت په ځینو مهمو نشراتي برخو کې د ضروري او مهمو وسایلو د ترلاسه کولو لپاره له مالي اړخه له ځنډ سره مخامخ کیږي، چې په دې برخه کې اړتیا ته په کتو د مالیې وزارت له لوري د استثنایي اجراآتو همکاري اړینه ده. د مالیې وزارت مالي معین محترم حاجي عبدالقدیر احمد وویل، چې مالیې وزارت د ټولو وزارتونو اساسي اړتیاوو ته پوره پاملرنه کوي او د اطلاعاتو او کلتور وزارت ته هم په یاده موضوع کې د پوره همکارۍ او اړینو اجراآتو د ترسره کولو بشپړ ډاډ ورکوو.

# از قاچاق شش تن خشت المونیمی در گمرک سپین بولدک جلوگیری شد

مسئولین گمرکات سپین بولدك ولایت قندهار ۱۴۹ عدد خشت المونیمی به وزن مجموعی ٦ تن را که به شکل قاچاق صادر میگردید، کشف و ضبط کردند. این خشت های المونیمی در تانکی تیل یک موتر باربری جاسازی شده بود و قصد قاچاق آن را به کشور پاکستان داشتند. به اتهام قضیه یک تن دستگیر شده و برای تحقیقات بیشتر به ارگان های مربوطه سپرده شده است. همچنان مسئولین گمرک مذکور در یک محموله دیگری باربری ۱۰ کارتن سیخ ویلد و ۱۲۰ کیلو تار زرد را که قصد قاچاق آن را به خارج از کشور داشتند، کشف و ضبط نمودند.



## سرمقاله

### نړیوالو بازارونو ته د افغانستان د صادراتو زیاتوالی

صادرات هغه توکي دي، چې د یوه هیواد پر اقتصادي پیاوړتیا باندي مستقیم آغېز لري. د صادراتو په زیاتېدو سره د یوه هیواد کورنی صنعت وده کوي، هیوادوالو ته د کار زمینه برابرېږي، اقتصادي خطرات کموي او د پولي واحد د ارزښت په ساتلو کې مثبت رول لوبوي. هغه هیوادونه، چې صادرات ئې په زیاتېدو او واردات ئې په کمېدو وي د پرمختگ په حال کې وي، خوشبختانه د افغانستان اسلامي امارت له بیا واکمنېدو سره سم د هیواد د اقتصادي پیاوړتیا او ځان بسیاینې لپاره اقتصادي سکتور ته ځانگړې پاملرنه سوې، د سوداگرو او صنعتکارانو ستونزو ته پر وخت رسېدنه کیږي، چې په پایله کې ئې په تېرو دوو کلونو کې د افغانستان صادرات د تېرو کلونو په پرتله څو برابره زیات سوي دي. د مالیې وزارت رهبري هم د هیواد د اقتصادي سکتور د پیاوړتیا، د سوداگرو او صنعتکارانو د ملاتړ او په هیواد کې د پانگوني د تشویق په موخه د سوداگرو مالیاتي جرایمو د معافیت ترڅنگ دوی ته د هیواد په ټولو گمرکونو کې د پام وړ اسانتیاوي رامنځته کړي دي، چې په لاندي ډول دي:

- د صادراتي توکو د پړاوونو ترسره کولو لپاره د هیواد په گمرکونو کې د کاري وخت (۲۴ او۱٦) ساعته کول.
د هیواد په گمرکونو کي صادراتي توکو د پړاوونو ترسره کولو ته لومړیتوب ورکول.
- د صادراتو د پراختیا په موخه له معدنیاتو پرته په نورو ټولو (میوه، سبزیو او صنعتي) توکو گمرکي محصول نه اخیستل.
- د کورني صنعت د پراختیا په موخه د ۱.۱.۱ له بیا واکمنېدو سره سم پر صادراتو باندي د (۲٪) سلني مالیه معاف کول.
- د مالیې وزارت د گمرکونو لوی ریاست سوداگرو ته د اسانتیاوو راوستلو په موخه د تورخم پر سرحدي گمرك باندي د ډبرو سکرو صادراتو ته اجازه ورکول.
- د هیواد په ټولو گمرکونو کي د فساد پر وړاندي ریښتینې مبارزه او بیروکراسي له منځه وړل.

د مالیې وزارت رهبري تل هڅه کوي چې د سوداگرو، صنعتکارانو او د پانگوالو صادراتي موادو ته په مالیاتو او گمرکونو کې نوري لازمي اسانتیاوي رامنځته کړي؛ تر څو افغانستان له اقتصادي پلوه د سیمي او نړۍ په کچه په یوه صادراتي هیواد بدل سي.

در نبشت
اداره




د تورخم په گمرک کي د (١٦٧) کیلو گرامه د مسو له قاچاق څخه مخنیوی وسو

م ۲



د دعوت او ارشاد رئیس د مالیې وزارت د بېلابیلو برخو له مسولینو سره ناستي وکړې

م ۲




د تخت استالف هوټل

م ۲




د افغانستان له گمرکونو څخه د ۱۴۰۲ مالي کال په لومړۍ ربعه کي ترسره سوي صادارت، واردات او ټرانزیټ!

م ٤



له قوله تر عمله!

م ۳



برای فارغین ورکشاپ آموزشی ریاست عمومی خزاین تصدیقنامه اعطا گردید

م ۲

شتمنی
SHTAMANAI
اوونیزه

## نویو گومارل سوو کارکوونکو ته د اداري چار چلندونو په اړه ورکشاپ پیل سو

نویو گومارل سوو کارکوونکو ته د اداري چار چلندونو په اړه درې ورځنی روزنیز ورکشاپ پیل سو. دغه درې ورځنی روزنیز ورکشاپ د عوایدو لوی ریاست دوه ځلوېښتو نویو گومارل سوو کارکوونکو ته د اداري چارو چلندونو په اړه د بشري سرچینو مدیریت له خوا د گمرکونو او عوایدو معینیت د گمرکاتو او مالیاتو په ملي آکاډمی کي جوړ او پیل سو. د ورکشاپ تنظیموونکو مسؤلینو په پیل کي د عوایدو لوی ریاست نویو گومارل سوو کارکوونکو ته د مالیې وزارت او د گمرکونو او عوایدو معینیت د مخیني، دندو، مسؤلیتونو او صلاحیتونو په اړه بشپړ معلومات وړاندي کړل او زیاته ئي کړه، چي د مالیې وزارت په ټوله کي د هیواد په مالي او اقتصادي برخو کي د پر ځان بسیاینې لپاره عواید راټولوي او د ځانگړي ستراتیژۍ له مخي ئې مصرفوي. د مالیې وزارت پر تشکیل او پالیسۍ سربېره نویو گمارل سوو کارکوونکو ته د اداري چار چلندونو په تړاو هراړخیز معلومات وړاندي سول او له کارکوونکو څخه وغوښتل سول، چي په ورځینو اداري چارو کي له مراجعینو سره ښه چلند وکړي.

## برای فارغین ورکشاپ آموزشی ریاست عمومی خزاین تصدیقنامه اعطا گردید

ریاست عمومی خزاین وزارت مالیه برای فارغین ورکشاپ تحت عنوان «برنامه آموزشی برای مسئولین واحد های بودجوی» پس از سپری کردن موفقانه امتحان تصدیقنامه اعطا نمود. در این ورکشاپ که طی ۵ دوره (۱۴ عقرب الی ۱۴ جدی سال ۱۴۰۱) جهت ارتقای ظرفیت مسئولین مالی واحد های بودجوی دایر گردیده بود، مسئولین ۵۰ واحد بودجوی ادارات دولتی اشتراک کرده بودند، قانون مصارفات عامه، کنترل و اجرای بودجه عادی و انکشافی، طی مراحل تخصیصات، طی مراحل قراردادها، مصارفات معاشات، اضافه کاری، چک لیست، فورمه جات محاسبات نقدی، جریان عواید، راپور دهی و تطبیقات مصارفات و پروسه تأدیاتی حواله های بودجه عادی و انکشافی به اشتراک کنندگان تدریس گردید. در این مراسم اختتامیه ورکشاپ آموزشی، حاجی



عبدالقدیر احمد، معین مالی وزارت مالیه، حبیب الله سباوون، رئیس عمومی بودجه ملی، محب الله صاحبزاده، رئیس محاسبات ریاست عمومی خزاین، مولوی احمد شاه شاکر، رئیس منابع بشری و شماری از رؤسا و نمایندگان واحد های بودجوی ادارات دولتی اشتراک داشتند. نخست، یک پرزینتش از کارکردهای ریاست عمومی خزاین به نشر سپرده شده و محب الله صاحبزاده، رئیس محاسبات ریاست عمومی خزاین در رابطه به مؤثریت برنامه و تأثیرات آن در بهبود فضای کاری صحبت نموده از اشتراک کنندگان برنامه خواست تا آنچه را در این ورکشاپ آموخته اند، در جریان کار به آن عمل نمایند. متعاقباً، حاجی عبدالقدیر احمد، معین مالی ضمن آرزوی موفقیت و کامیابی به اشتراک کنندگان گفت، تنها به این برنامه آموزشی اکتفا نکرده تلاش نمایید از طریق مختلف ظرفیت و توانایی کاری و علمی خویش را بالا ببرید. وی از اشتراک کنندگان خواست رعایت اصول اخلاقی و پایبندی به وقت را سر لوحه کاری خویش قرار دهند. مراسم با اعطای تصدیق نامه به اشتراک کنندگان ورکشاپ آموزشی و سپاس نامه به مدرسین و دعای خیر به پایان رسید. قابل ذکر است که آنعده از کسانیکه بالاترین نمره را در امتحان این ورکشاپ اخذ نموده بودند، مورد تقدیر قرار گرفت.

## د تورخم په گمرک کي د (۱٦۷) کیلو گرامه مسو له قاچاق څخه مخنیوی وسو

د تورخم گمرک زړورو کارکوونکو په یوې خالي محمولې کي (۱٦۷) کیلو گرامه مس کشف او ونیول. مس په ډېر مهارت سره ځای پر ځای سوي وه او غوښتل ئې پاکستان هیواد ته ئې قاچاق کړي. د یادوني وړ ده، چي د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ په هدایت له صنعتي فابریکو څخه د ملاتړ په موخه له هیواد څخه د هر ډول اوسپنو، المونیمو، مسو او داسي نورو فلزاتو، چي په کورنیو فابریکو کي ترې کار اخیستل کېږي، صادرول ئې په مطلق ډول بند دي.



## د دعوت او ارشاد رئیس د مالیې وزارت د بېلابیلو برخو له مسولینو سره ناستي وکړې



د دعوت او ارشاد رئیس مولوي عبدالهادي سیف الخالد د مالیې وزارت له مسؤلینو سره د مشورتي ناستو په دوام دا ځل د وزارت له اداري معین محترم مولوي حمدالله زاهد، مالي معین محترم حاجي عبدالقدیر احمد، د گمرکونو او عوایدو معین محترم حاجي عبدالقاهر ادریس او د املاکو لوی ریاست او د کوچنیو مالیه ورکوونکو ریاست له کارکوونکو سره بېلابیلې ناستي ترسره کړې. د ناستوپه جریان کي د دعوت او ارشاد رئیس او مسؤلینو د یاد ریاست اړوند مسؤلیتونو د بیانولو ترڅنگ د دعوت او ارشاد ریاست ځینې ستونزي له مسؤلینو سره شریکي کړې او اړتیا ته په کتو د ریاست د تشکیل په زیاتولو ئې ټینگار وکړ. ښاغلی سیف الخالد همدا راز د دعوت او ارشاد ریاست د چارو د لا ښه والي په برخه کي د وزارت د یادو برخو د مسؤلینو او کارکونکوو د لا ډېرو همکاریو غوښتونکی سو او د ښه نظم د رامنځته کولو لپاره ئې مهمي سپارښتني شریکي کړې. په دې لیدنو کي د وزارت مسؤلینو د دعوت او ارشاد ریاست د فعالیتونو ستاینه وکړه او له یاد ریاست سره ئې د هر ډول همکاریو ډاډ ځرگند کړ. د یادوني وړ ده، چي د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو د دیني معلوماتو د کچي لوړولو، د دیني ارزښتونو پلي کولو او په ادارو کي د هر ډول تبعیض د مخنیوي په برخو کي فعالیت کوي او په دې موخه ئې بېلابیل پروگرامونه په لاره اچولي دي.

## امتحان دو بست قراردادی (NTA)شرکت های دولتی اخذ گردید

وزارت مالیه متعهد به شایسته سالاری بوده و همواره تلاش نموده است که افراد مسلکی، متعهد و صادق را در ادارات مربوطه خویش استخدام و اصل شفافیت را تأمین نماید. از این رو امتحان تحریری ۲ بست قراردادی (تحلیلگر ارشد مالی و اقتصادی و متخصص تحلیل مالی) شرکت های دولتی را از طریق رقابت آزاد و شفافیت کامل در خبرهال این وزارت اخذ نمود. این امتحان با حضور داشت بلال احمد قریشی رئیس عمومی مالی و اداری، مولوی احمد شاه شاکر، رئیس منابع بشری وزارت مالیه و عبدالاحد احدی، آمر جلب سرمایه گذاری بخش تجاری شرکت های دولتی اخذ گردید که در آن مجموعاً (۳۳) نفر اشتراک داشتند. قابل یاد آوریست که در بست تحلیلگر ارشد مالی و اقتصادی (۲۸) تن و در بست متخصص تحلیل مالی (۳۳) نفر شارت لیست و به امتحان خواسته شده بودند، ولی در بست های متذکره بالترتیب (۱٦) و (۱۷) نفر در امتحان حاضر گردیده بودند.

## د تخت استالف هوټل

د مالیې وزارت د دولتي شرکتونو د دولتي هوټلونو اړوند تخت استالف هوټل د کابل ولایت په شمال لویدیځ، د استالف په ولسوالۍ کي موقعیت لري او له کابل ښار څخه یوازي (۳۰) کیلومتره واټن لري. شین او تازه طبیعت، خوندور اقلیم او ښکلي هوا دغه سیاحتي ځای ته ځانگړې شهرت ورکړی او د افغانستان د مېلمستون لقب ئې خپل کړی دئ. دغه تاریخي هوټل د پخواني پاچاه (محمد ظاهر شاه) د واکمنۍ پر مهال په درې جریبه ځمکه کي جوړ سوی، چي د کورنیو جگړو پر مهال ویجاړ سوی وو. په (۱۳۹۷) کال کي بیا تجهیز او ورغول سو، اوس د تجربه لرونکو او مسلکي پرسونل په لرلو سره معیاري خدمات وړاندي کوي او د هیوادوالو په چوپړ کي دئ.

**موخې:** کورنیو او بهرنیو مېلمنو ته د هوټلدارۍ خدمتونه برابروي، په هیواد کي د هوټل صنعت ته وده او پراختیا ورکوي، د عوایدو په زیاتولو سره د هیواد په اقتصادي وده کي فعاله ونډه اخلي، د هیوادوالو لپاره د کار پیداکولو او کاري فرصتونو په رامنځته کولو کي مهم رول لري.

**د استالف هوټل خدمات او اسانتیاوي:** لومړی درجه VIP خوب خوني، دویمه درجه خوب خوني او دریمه درجه خوب خوني، چي د مېلمه پالني او غوره خدماتو وړاندي کولو لپاره لاندي اسانتیاوي لري: عصري وسایل، بستر، د مطالعې مېز، یخچال، ټلوېزیون، د تودوخي او سړې هوا تنظیم کوونکی سیستم (ایرکنډېشن)، برقي بخارۍ، د (۳) جریبه ځمکي مساحت سره پراخه، ښکلې، په زړه پوري او آرامه شنه سیمه، مجهز او عصري حمامونه، د (وای فای) له لاري په چټک سرعت سره وړیا انټرنیټ، داخلي ټلیفوني سیستم او نور خدمات (چای، کافي، خواړه ...) وړاندي کوي.

**همدا شان نوري اسانتیاوي هم لري:**

۱. د کانفرانسونو تالار، چي په عصري تجهیزاتو سمبال او د مسلکي خدماتو سره غوره غږیز سیستم لري.
۲. د ښې فضاء او آرام محیط په لرلو سره ستاسو د رسمي او غیر رسمي محفلونو (کوزدې، واده، او نور) لپاره غوره خدمات.
۳. عصري رستورانټ او د خوندورو کورنیو او بهرنیو خوړو خدمات وړاندي کول.
٤. هر ډول Fast food.
۵. د څلورو فصلونو جوس.
٦. ساړه څښلکېدونکي.
۷. هرډول قهوه.
۸. د (۲۴) ساعته برېښنا درلودونکی.
۹. د موټرونو لپاره د پراخ تم ځای (پارکینگ) درلودونکی.
۱۰. د هوټل دننه په آرام او ښکلي ځای کي. مسجد شریف،
۱۱. مجهز کانتین.



شتمنی
SHTAMANAI
اوونیزه


# له قوله تر عمله

محمد اکبر رغون

د کرونا نړیوالي وژونکي وباء له امله د نړۍ اقتصادي بازار سوړ او یو څه په ټپه ودرېد. په نړیواله سطحه د خوراکي موادو او تېلو نرخونه لوړ سول او ور سره د خلکو غوغا پورته سوه. دلته په هیواد کي دننه یو شمېر شریرو او حاسدو کړیو ئې پړه په ډېره سپین سترګۍ سره د اسلامي امارت په راتګ واچوله. ویښ او بیداره ملت لومړی د ګاونډیو هیوادونو او بیا د نړۍ اقتصادي وضعیت درک کړ، چي خوراکي توکو، تېلو او پولي واحدونه ئې په بېساري ډول نزول وکړ. د شریرو کړیو دا تور هم نا چله سو او د اسلامي امارت په تقدس ئې هیڅ آغېز و نکړ. په هماغو شپو ورځو کي د نړۍ ډېر هیوادونه د خورا سختو اقتصادي ننګونو سره مخ سول، لکه ایران او ترکیه چي د سختي اقتصادي څپې په مقابل کي ئې پولي واحد ارزښت له لاسه ور کړ او ور سره ئې د کډوالو په ایستلو پیل وکړ او ډېر کډوال ئې بهر کړل. پاکستان د پولي واحد د ارزښت له لاسه ور کولو تر څنګ د پورونو اخیستلو ته مخه کړه. د موضوع د لا روښانتیا لپاره د سریلانکا بد اقتصادي وضعیت څخه یادونه کوو، چي نظام ئې په ټپه ودرېد او ولسمشر ئې له هیواده تېښتي ته اړ سو. زموږ ګاونډی هیواد پاکستان، چي د اټم ښتن دئ په داسي اقتصادي بحران کي ګیر سو، چي د وتلو لار تري ورکه سوه. دا چي پاکستان د نړیوال بانک څخه واخله تر اسلامي بانک پوري په میلیاردونو ډالره پوره وړی دئ؛ د دې با و جود ئې څه موده وړاندي تازه د چین هیواد څخه د اووه سوه میلیونو ډالرو پور واخیست. د ویاړ او شکر ځای دئ، چي لله الحمد عزیز افغانستان نه د نړیوال بانک څخه پوره وړی دئ او نه له نورو هیوادونو. د اسلامي امارت معتدل، مدبرانه سیاست او له خپلو خلکو سره سالم سلوك د دې باعث سو، چي هم داخلي او هم بهرنی محبوبیت خپل کړي. موږ ولیدل، چي د نړیوالو بندیزونو او د یو شمېر په اصطلاح غرب میشتو فراریانو تهمتونو او منفي تبلیغاتو با وجود هم لکه؛ ایران، متحده عربي امارات، ترکیې، چین، پاکستان او یو شمېر نورو هیوادونو اسلامي امارت ته په کم وخت کي په پر له پسې ډول سفارتونه او قنسلګرۍ تسلیم کړې او باور لرو، چي دا لړۍ همداسي نورو هیوادونو ته هم و غځېږي. اسلامي امارت په کمه موده کي داسي فعالیتونه او کړني تر سره کړې، چي د هیواد په تاریخ کي ئې ساری نه لیدل کېږي.

### د بېلګي په ډول ئې له څو هغو یادونه کوو:

د ویني تویدني او غچ اخیستني څخه د مخنیوي په پار تاریخي عمومي عفوه، د امارت هغه ستر احسان دئ، چي ملت به ئې کله هم هېر نه کړي. د مشرتابه لخوا عفوه مدبرانه، معقولانه او نهایي زبردست اقدام وو، چي وسو. اوس په ګرد هیواد کي د تېري اداري نظامي، سیاسي او ملکي وګړي پرته له کوم ګواښ څخه ژوند کوي او حتی ډېری ئې په موجوده نظام کي په مختلفو دندو بوخت دي، د دولت له مساویانه حقوقو څخه برخمن دي او ټولو ته په یوه سترګه کتل کېږي. د ژمي په یخو شپو کي د هیواد له ګوټ-ګوټ څخه د اسلامي او انساني همدردۍ له کبله په افیونو او تاریاکو اخته هیواد وال را ټول او د ښې درملني په پار روغتیایي مرکزونو ته انتقالول، هغه ښکلی اقدام وو، چي په نړیواله کچه ئې استقبال وسو. د اسلامي امارت د ترحم په اساس د هیواد له ګوټ-ګوټ څخه د سوالګرو او بې وزلو هیواد والو را ټولول، د هغوی بایومتریک کول او هر یوه ته د میاشتي معاش ور کول. د زېربنایي پروژو تطبیق، څارنه، سالم مدیریت او د نورو حیاتي پروژو د پیدا کولو او پلي کولو لپاره هڅې، هغه څه دي چي په خپلو سترګو ئې وینو. لکه د قوشتېپې کانال، د مختلفو فابریکو ترمیم، رغونه او بیا ځلي فعالول، د کابل-کندهار لوی سړك، سالنګونو او بندونو رغول.... د خوراکي توکو او تېلو بیې کنټرولول او د یادو توکو بیبو د لا ټیټېدا لپاره هڅې هغه څه دي، چي ټولو ملت ته لکه لمر روښانه بریښي. د ګاونډیو او نړیوالو اسعارو پر وړاندي د افغانۍ ثبات او ارزښت ساتل هغه څه دي، چي ټول یې منو. د کلداري، تومان او یو شمېر نورو پولي واحدونو پر وړاندي د افغانۍ صعود هغه ستر ویاړ دئ، چي د هیواد په تاریخ کي ئې ځانته ځانګړی مقام جوړ کړی. د یو شمېر کرایه شویو او اجیرو ډلو-ټپلو پر وړاندي د اسلامي امارت ځپونکي او تندریز بریدونه هغه ستري لاسته راوړني دي، چي واشنګټن او نور زبرځواك هیوادونه ورته ګوته په غاښ دي. اسلامي امارت وکولای سول، چي په ډېره کمه موده کي د شر او فساد کرغېړن ټغر ټول او هیوادوال ئې له شر څخه خلاص کړل.



اسلامي امارت د غلا، اختطاف، هدفي وژنو او ترور جرړي له بېخه و ایستې، په ټول هیواد کي ئې د امن څادر و غوړاوه، ټول هیواد وال پرته له ډار څخه خپلو ورځنیو چارو ته په پوره ډاډ سره ځي، زده کوونکي خپلې زده کړې کوي، تجاران خپل تجارتونه، بزګران خپل کښت او کر-کېله او لمونځ کوونکي خپل لمونځونه او عبادات تر شنه آسمان لاندي په مزید سکون سره کوي. د کانونو استخراج په مسلکي ډول او له هر اړخیزي سروې څخه وروسته هغو قراردادیانو ته ور کول کېږي، چي ګټه ئې زیاته وي، هیوادوالو ته په کي د کار زمینه مساعده سي او ور سره د داسي فابریکو جوړول چي خام مواد ئې همدلته ځای پر ځای په فابریکه کي د توکو د تولید لپاره وکارول سي. لکه د لیتیمو استخراج او ور سره څنګ کي ئې د بطریو د تولید لپاره فابریکه جوړول. په ټول هیواد کي د ښاروالۍ لخوا په زړه پوري کارونه، لکه د واټونو او څلور لارو لپاره ښکلي سمبولونه رغول، د ویالو او کانالونو پاکول، د دوکانونو، غرفو منظمول، په ښارونو او بازارونو کي د روښنایي لپاره برښنایي یا سولري څراغونو پایې لګول او غیر معیاري تم ځایونه «پارکینګونه» ختمول، چي د رش باعث کېدل. د زورواکانو لخوا د دولتي غصب سویو ځمکو بیرته را ګرځول او دولتي کول. په ښارونو کي د زور واکانو لخوا په دولتي ځمکو کي جوړ سوي ښارګوټي او هغه سړکونه، چي د زور واکانو لخوا په کي کورونه، لوړ پوړیزي ودانۍ او مارکېټونه جوړ سوي وو، د هغو چپه کول، بیرته سړکونه او لویې لارې ترې جوړ ل. د تخنیك په برخه کي هیواد وال هڅول او هغوی ته د کار او نوښت لپاره زمینه برابرول. لکه، د موټرونو، الوتکو، نظامي وسایلو او رنګ-رنګ نور اختراعات هغه څه دي، چي په کمه موده کي د نوښتګرو او زیارکښو هیواد والو لخوا و پنځېدل. لنډه دا چي د اسلامي امارت په راتګ سره په ډېره کمه موده کي، ډېر داسي څه په خورا کمو امکاناتو، پرته له بهرنیو کومکونو سره وسول، چي نړۍ ئې حیرانه کړه. د ټولو کړنو او فعالیتونو څخه یادونه به لیکنه لا اوږده کړي، د موضوع د وضاحت لپاره همدا څو ذکر سوي بېلګي د موشت نمونه یی خروار په اساس کافي بولو او په همدې اکتفاء کوو.


## اعلانات داوطلبی

### شرکت دولتی حفظ و مراقبت مکروریانها ۳۵ قلم قرطاسیه باب خود را به اعلان داوطلبی سپرد

پنجشنبه ۱۵/۴/۱۴۰۲

شرکت دولتی حفظ و مراقبت مکروریانها برای سال ۱۴۰۲ به تعداد ۳۵ قلم قرطاسیه باب غیر مطبوع مورد ضرورت خویش را از طریق مناقصه به اعلان داوطلبی میسپارد. شرکت های که خواهش اکمال کردن آنرا داشته باشند در خواست های خویش را به مدیریت تدارکات شرکت بسپارند و شرطنامه را در بدل مبلغ ۱۳۰۰ افغانی پول بدون بازگشت اخذ نمایند. علاقمندان میتوانند غرض آفرگشایی (مناقصه) از تاریخ نشر اعلان الی مدت ۲۱ روز به شرکت دولتی حفظ و مراقبت مکروریانها مراجعه نمایند.

پنجشنبه ۵/۵/۱۴۰۲

### اعمار تانک ذخیره تیل جنراتورهای مرکز وزارت مالیه

پنجشنبه ۱۵/۴/۱۴۰۲

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء(اعمار تانك ذخیره تیل جنراتورهای مرکز وزارت مالیه) دارای نمبر تشخیصیه ۰۳۱-W/۱٤۰۲/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند.

جلسه قبل از داوطلبی: تاریخ ۲۹/ سرطان / ۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می باشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۷/ اسد/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می باشد.

تضمین آفر: به مبلغ ۳۰,۰۰۰ (سی هزار) افغانی می باشد.

آدرس :وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

شنبه ۷/۵/۱۴۰۲

### د کابل ولایت د ۸مې ناحیې اړوند کابل ننداري سره (٦٧٠.٥٠) متر مربع حویلۍ د داوطلبۍ خبرتیا

دوشنبه ۵/۴/۱۴۰۲

د مالیې وزارت د دولتي املاکو لوی ریاست غواړي چي د کابل ولایت اړوند ۸ مې ناحیه کابل ننداري سره د یو باب ۲ منزله تعمیر په درلودو چې (٦٧٠.٥٠) متر مربع مساحت لري د داوطلبۍ لپاره اعلان ته سپاري. ټول هغه حکمي او حقیقي اشخاص چي غواړي نوموړی ملکیت په کرایه ونیسي کولای سي خپل غوښتنلیکونه د اعلان له خپریدو وروسته د ۲۱ ورځو په موده کي د دولتي املاکو لوی ریاست ته وسپاري او د یاد سوي ملکیت شرطپاڼه د اسنادو د ارزیابي لو لومړني قیمت ته په کتو تر لاسه کړي.

دوشنبه ۲۶/۴/۱۴۰۲

### تدارک ۳ پایه جنراتور برای گمرک های ولایات کابل، نیمروز و پکتیکا

سه‌شنبه ۱۳/۴/۱۴۰۲

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تادر داوطلبی پروژهء(تدارک ۳ پایه جنراتور برای گمرک های ولایات کابل، نیمروز و پکتیکا) دارای نمبر تشخیصیه ۰۳۰-G/۱٤۰۲/MOF که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.

جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۲٤/ سرطان /۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۰۳/ اسد /۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.

تضمین آفر : به مبلغ ۸۰،۰۰۰ (هشتاد هزار) افغانی میباشد.

آدرس :وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات،مشاوریت تدارکات منزل دوم.

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦

سه‌شنبه ۳/۵/۱۴۰۲

شتمنۍ
SHTAMANAI
اوونیزه

د امتیاز خاوند: د ماليې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: حبیب الله حُبیب
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبپاڼه: mof.gov.a
ټویټر: @ afghanistanmof
یوټیوب: afghanistan moḟ
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)



# از این به بعد اعانه معارف در اظهارنامه در گمرک اخذ میگردد



بر اساس درخواست تجار ملی و تصمیم رهبری ریاست عمومی گمرکات، به منظور ایجاد تسهیلات برای تجار و ساده‌سازی طی مراحل گمرکی، از این به بعد اعانه معارف در اظهارنامه گمرکی اخذ میگردد.

این در حالی است که قبل از این تاجر مکلف بود که اعانه معارف را از طریق تعرفه دستی به بانک های مربوطه به شکل فزیکی تحویل دهند، اما اکنون این پروسه سیستمی شده و به صورت اتومات ثبت و محاسبه می شود.

قابل ذکر است که ریاست عمومی گمرکات در تلاش است تا به منظور توسعه بیشتر تجارت در کشور، تسهیل طی مراحل گمرکی و ایجاد سهولت برای تجار تمام مطالبات اصولی آنها را بپذیرد.

# د افغانستان له ګمرکونو څخه د ۱۴۰۲ مالي کال په لومړۍ ربعه کي ترسره سوي صادرات، واردات او ټرانزیټ!




د محمولو شمېر: ۲٦ زره ۴٦۲ محمولي
ګمرکي ارزښت: ( ۳۰ میلیارډه ۵۳٦ میلیونه افغانۍ)

د محمولو شمېر: ۱۷۳ زره ۳۸٦ محمولي
ګمرکي ارزښت: (۱۷۳ میلیارده او ۴۹ میلیونه افغانۍ)




د محمولو شمېر: ۱۰ زره ۳۳ محمولي
وزن پر ټن: ۳۰۹ زره ۱۷۹ ټنه

## The process of extracting petroleum from a new well in Qashqara region has been started



The Afghanistan Oil and Gas State-owned Corporation (SOC) of Ministry of Finance and a Chinese contracting corporation (Afg-Chin Oil and gas Ltd.) jointly opened a new extraction well in the Qashqara oil field. Acting Minister of Mines and Petroleum, Sheikh Shahabuddin Delawar and General Director of Oil and Gas SOC under the Ministry of Finance, Mohammad Naseer Rahimi (Engineer Hassan) and officials opened a new extraction well (No. 21) in Qashqara area of Saripul Province and its extraction process has been started. Currently, around 70 tons of crude oil is being extracted from mentioned well in 24 hours and in the near future, the level of extraction from this well will increase to 100 tons.

## From now on, education donation will be collected through the customs e-filling



Based on the request of national traders and the decision of the General Directorate of Customs in order to facilitate the traders and to simplify the customs procedures, after this, the education donation will be taken through the customs e-filling. Before this, the businessman was obliged to physically deliver the education donation to the related banks through manual payment (tariff), but now this process has been systemized and the form will be recorded and calculated automatically. It is worth mentioning that the General Directorate of Customs is trying to accept all the principled demands of the businessmen in order to further develop the business, facilitate the customs procedures and create convenience for the businessmen in the country.

د شتمنۍ اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د ماليې وزارت سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک magazine@mof.gov.af له لاري مونږ ته راواستوي.